دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

شهادت شپږم کال، ۲۴ مه گڼه، پرله پسې ۲۲۸ مه گڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د وږی ۱۷ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د ذوالقعده الحرام ۱۳ مه د۲۰۱۴ م د سپتمبر ۸ مه

درس قرآن

ای محمده! ووایه: که تاسې له الله جل جلاله سره رښتیني مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ الله جل جلاله به له تاسې سره مینه وکړي او گناهونه به مو وبخښي. الله پاک بخښونکی او مهربان دی. ای محمده! ووایه: د الله او د رسول منــنـه وکړئ. که مخ یې واړاو نو الله پاک کافران نه خوښوي. (آل عمران: ۳۱ - ۳۲ آیتونه)

درس حدیث

از ابوهریره (رض) روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «همهٔ امتیان من وارد بهشت خواهند شد مگر کسی که امتناع ورزد». صحابه عرض کردند: ای رسول خدا! چه کسی امتناع می ورزد؟ فرمود: «هرکس که از من اطاعت کند، وارد بهشت می شود و هر کس، از من نافرماني کند، در حقیقت، امتناع ورزید ه است». (صحیح البخاری)

د پغمان د پېښې ۷ تورن په 'اعدام ' محکوم شول

په دې قضایي ناسته کې د زمري میاشتې د ۳۱مې شپې پر پېښې سربېره چې یاد کسان په کې تورن وو، یو شمېر نورو زیانمنو ځیني تورن پر وژنو، غلاوو او جنسي تېریو هم تورن کړل.

کابل، رسنۍ:
کابل کې ابتداییه محمکې هغه اووه تنه په مرګ او ۲۰ تر ۳۵ کلونو بند محکوم کړل چې په پغمان ولسوالی کې په وسلوالې غلا او ډله ییز جنســي تېري تورن وو.

د روان کال د زمري میاشتې په ۳۱مه د شپې مهال یو شمېر کسانو د پولیسو په جامه کې د پغمان ولسوالی پر عمـومي سړک ځینې ښځې او نارینه، چې له پغمان نه کابل ښار ته روان وو، له موټره ښکته کړل او د کالو پر لوټلو سربېره یې پر ښځو جنسي تېری هم وکړ.

پولیسو اوه کسه تورن ونیول او لویې

خارنوالی تېره ورځ په خبري ناسته کې وویل، چې د دغه ناوړه عمـل د اوو تورنو دوسیې د ملي امنیت له کورنیو او بهرنیو جرمونو سره د مبارزې خارنوالی له خوا بشپړې شوې او ښارې محکـمې ته استول شوې دي. ...

(۴ مخ)

رحیمی:

اگر ملاقات امروز نتیجه ندهد، تیم اصلاحات و همگرایی موقف نهایی اش را اعلان میکند

کابل، رسانه ها؛
تیم اصلاحات و همگرایی می گوید که اگر ملاقات امروز (دوشنبه) داکتر عبدالله عبدالله و اشرف غنی احمدزی بر سر ایجاد حکومت وحدت ملی به نتیجه نرسد، موقف نهایی خود را اعلان خواهند کرد.

تیم اصلاحات وهمگرایی در حالی از احتمال تصمیم گیری در باره اعلان موقف نهایی شان خبر می دهند که قرار است دو نامزد امروز (دوشنبه) بار دیگر با هم دیدار کنند.

مجیب الرحمان رحیمی یکی از سخنگویان تیم اصلاحات و همگرایی در صحبت با رادیو آزادی گفت، اگر در این ملاقات دو طرف روی ایجاد حکومت وحدت ملی ...

(ص ۴)

سلسله آغاز و دوام سیمینارهای علمی

احمدخالد (فیاض)

حزب اسلامی افغانستان، حزب فعال، اصولی و کار آزموده است، در طول مبارزه اش با به کار گرفتن شیوه های معقول و پسندیده در تنویر اذهان و تربیت سالم مردم پرداخته افتخارات زیادی را به دست آورده است، تلاش های پیهم و تصامیم داهیانه و مدبرانه کدر رهبری این حزب ستون فقرات این حزب را قوی‌تر ساخته ساحه نفوذ آنرا وسعت بخشیده است، یکی از برتری های قابل افتخار و سازنده این سازمان اسلامی اینست که در تربیت سالم و رشد جوانان توجه بیشتر داشته کارهای مهمی را درین بخش انجام داده است، همیشه کوشیده تا جوانان را که سرمایه اصلی اجتماع اسلامی اند، توجیه و راهنمایی درست نماید تا ازین هزینه سرشار جامعه استفاده معقول و بجا شده دست های مرئی و نامرئی دشمنان کوتاه گردد.

سلسله تربیت سالم جوانان و تدویر سیمینارهای علمی برای یکمدت کوتاه روی بعضی ملحوظات و مصروفیت ها از فعالیت باز مانده بود، ریاست تنظیم اسلامی جوانان حزب بار دیگری برای انجام این مسؤولیت عطف توجه نموده، روز پنجشنبه مؤرخ ۶ سنبله سال جاری مجدداً این پروسه را آغاز و با ترتیب و تنظیم این برنامه که کاملاً عیار و آماده به دوام است اهتمام خاص گرفته است، این سیمینار علمی که در هر هفته روزهای پنجشنبه ساعت هشت و نیم صبح آغاز و برای مدت یک و نیم ساعت دوام پیدا می کند، در دفتر مرکزی حزب اسلامی واقع خوشحال خان مینه عقب بلاک های شاداب ظفر تعقیب میگردد، همه جوانان مسلمان و محصلین پوهنتون ها با استفاده از رخصتی روزهای پنجشنبه می توانند که مسلسل ازین فرصت طلایی استفاده نمایند و درین سیمینارهای علمی، تربیتی و فرهنگی شرکت نموده به اندوخته های اسلامی شان بیفزایند.

موضوعات مورد بحث در سیمینارهای روزهای پنجشنبه موضوعات مختلف می باشد، در هر پنجشنبه روی یک موضوع خاص بحث صورت میگیرد، اگر برادران جوان و ...

(ص، ۴)

«او تاسې ته په قصاص کې ژوند دی»

فروغگر

«کله چې د پغمان د پېښې جانیان او هغه مفسدین چې د میلو په بهانه پر نورو جرایمو سربېره د وار وار زنا مرتکب کېږي او یا هغه غله او داړه ماران چې د خلکو ژوند او امنیت گواښي، ونیول شي او د جرم د اثبات په صورت کې اعدام شي، واضحه خبره ده چې دا نور مفسدین ژوند ته پر جنایت ترجیح ورکوي او نور له دغو شومو اعمالو لاس اخلي په دې توگه د جرمونو ددغې لویې برخې په کمیدو او یا له منځه تللو کې ټولنه د ارامی ساه اخلي او په خپل چاپیریال کې به داډه زړه ژوند کوي.»

په نړۍ کې د بشري حقوقو ډېری جوړښتونه رامنځ ته شوي دي چې په ټوله نړۍ په خاصه توگه غربي دنیا کې د بشر له حقوقو دفاع کوي او په دې برخه کې د نړۍ په گوټ گوټ کې مدني ټولنې او تحرکات لري چې دهغو له جملې نه د بخښنې بین المللی سازمان دی، په وار وار لیدل شوي دی چې یو جاني حرفوي مجرّم، قاتل او هغه څوک چې په نښتون کې یې ټولنه د آرامی ساه اخلي هغه مهال ددغه سازمان په رحم او کرم خوشې شوی او یا یې په جزا کې کمی راغلی چې د قانون پنجو ته ورغلې او د مرگ سزا ورته اورول شوې، لومړی خو ښایي ددی سازمان له غړو نه پوښتنه وشي، هغه پنځوس سل کسان چې ددغه قاتل د گولیو په باران کې ووژل شول «انسانان» نه وو؟ د کورنیو او بچیانو، خپلوانو خاوندان نه ول؟ هغوی ولی ووژل شول؟ له هغوی نه ولې د ژوند حق واخیستل شو؟ او که ددغو سازمانونو نه پوښتنه وکړې چې د بین المللی جرمونو او جنایاتو د مخنیوی لپاره تاسې څه ورانديز لرئ؟ دغلته دوی گونگ شي او هیڅ نشي ویلی، حقیقت دا دی چې دوی او د ملکرو ملتو سازمان منشور ډېرې برخې دهغو احکامو پر ضد تدوین شوي چې د غلو، داړه مارانو، قطاع الطریقانو، زانیانو، بهتان ویونکو او ...

(۳ مخ)

کمیسیون انتخابات خواهان نهایی شدن تفاهمات سیاسی بین نامزدان شد

((عبدالرب رسول سیاف یک تن از رهبران جهادی و کاندید دور اول انتخابات ریاست جمهوری در تازه ترین مورد با صدور اعلامیهٔ گفته که اعلام نتایج انتخابات قبل از توافق سیاسی میان تیم های انتخاباتی پیامد خوبی در پی نخواهد داشت.))

کابل، رسنۍ:
در حالیکه هر دو کاندید ریاست جمهوری، روی صلاحیت های رییس اجرائیه حکومت وحدت ملی تا کنون با هم به توافق نرسیده اند، کمیسیون مستقل انتخابات خواستار نهایی شدن تفاهمات سیاسی شده است.

نور محمد نور سخنگوی این کمیسیون روز یکشنبه در یک نشست خبری گفت که امیدواراند انکشافات سیاسی هم به زودی نتیجه دهد.

آقای نور گفت که این کمیسیون مطابق قانون مکلف است تا با تکمیل پروسه ابطال آراء بدون تاخیر نتایج انتخابات را اعلام نماید:

"ما امیدوار هستیم که ...

(ص، ۴)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ایا بیا بنده کوڅه؟

د افغانستان د ولسمشریزو انتخاباتو ستومانوونکی بهیر د پای شیبو ته نژدی شوی دی. دا چې په انتخاباتو کې څه وشول او چا له ولس سره څه وکړل هغه هم نه د ولس له سترگو پټه خبره ده، او نه د نړیوالې ټولنې. په دې اړه طبیعي ده چې قضاوتونه هم سره توپیر لري او علت یې زما په اند دا دی چې خبرې سرچینې سره توپیر لري، احساسات او عواطف به هم په کې څه ناڅه اغیز ولري، تمایلات به هم بی اغیزی نه وي او د قضاوت له پاره معیارونه به هم سره توپیر لري، یو یې په کیلو تلي، بل په چارک؛ نو طبیعي ده چې نتایج به که په ځینو برخو کې سره همغږي ولري په ځینو برخو کې به تفاوتونه هم رامنځته کېږي. له بلې خوا هر چاته خپله خبره میره او د بل ورته غلطه ښکاري او دا ځانگړنه په هر انسان کې شته؛ پر دې به هیڅوک نه ملامتوو؛ خو اصلي هدف دا دی چې د نړیوالو او په تیره بیا د امریکا د وساطت یې وبولو که فشار په نتیجه کې په ښکاره خو باید خبره د بحران خواته بو نه تلل شي او په هغه څه چې توافق شوی چې هغه د ملي وحدت حکومت دی، باید قناعت وشي؛ خو ښایي وي داسې لوري؛ افراد او کړی چې غواړي خبره د بحران خواته بوځي؛ خو دا اوس د دو ټیمونو د مشرانو او پر هېواد د زړه سواندو افرادو او قوتونو خبره ده چې پر ښندي روان بهیر له سمې لارې کوږ او د بحران خواته ولاړ شي. متأسفانه سره له دې چې د ټولو رأیو پر بیا شمېرلو توافق وشو؛ خو بیا هم دا بهیر هغسې پرمخ ولاړ نه شو چې دواړه لوري پرې قانع شي، بیا هم شکایت موجود دی، بیا هم د نظرونو تباعد تر سترگو کېږي، د یوه ټیم ویاند خبره خلاصه بولي او وایي چې فقط په یوه ټکي کې اختلاف دی او هغه دا چې د کابینې ریاست به څوک کوي؟ ولسمشر که اجرائی مشر؟ خو بل لوری وایي چې تراوسه په خبرو کې څه خاص پرمختگ نه دی شوی. یو لوری د رأیو د شمېرنې د نتایجو پر اعلان ټینگار کوي او بل لوري وایي چې لومړی باید سیاسي توافق ترلاسه شي او بیا د تخنیکي برخې نتایج اعلان شي. ځینو مطرحو لوریو هم په دې برخه کې اعلامیې هم خپرې کړی دي چې باید لومړی سیاسي نتایج ترلاسه او بیا د انتخاباتو نتایج اعلان شي. که داسې ونه شي خبره به په لوی لاس د بحران خواته بوتلل شي چې بیا به یې هیڅوک د کابو کولو وس ونه لري.

البته اوس هغه وخت رارسیدلی چې سیاسي چنې یو خواته پریښوول شي، احساساتو ته شاکړای شي او د ملت علیا گټې په پام کې ونیول شي. په دې کې گورو چې ځینی داسی کسان به هم وي چې خبره په لوی لاس د بحران خواته بیول غواړي؛ خو مسؤولیت د ټیمونو مشرانو ته راجع کېږي.

دا خبره څوک ومني او که ونه مني؛ خو د افغانستان حالات داسې دي چې اوس دلته یو ټیم په یواځې ځان حکومت نه شي کولای. افغانستان ته یې دموکراسی راوستله خو د دموکراسی سره چې کوم لازم عنصر و هغه متأسفانه ډېر کمزوری دی چې هغه احزاب دي. سهی ده چې په افغانستان کې احزاب هم شته او د احزابو قانون هم شته؛ خو احزاب په دغسې یو حد کې نه دي چې هر حزب په یواځې سر انتخابات وگټلای شي او ټول ملک اداره کړای شي؛ نو همدا وجه ده چې د انتخاباتي ائتلافونو ضرورت لا پر خپل ځای دی، په دې ائتلافونو کې ځینی کسان د افرادو په حیث هم شامل شوي دي. په دوی کې بیا داسې کسان هم شته چې هغه د «از آش کرده کاسه داغتر» ډېر ښه مصداق دي.

پر دې اساس زموږ د دواړو ټیمونو مشرانو ته وړاندیز دا دی چې ولس بیا پر بنده کوڅه ورنه ولي او هغه له موانعو د عبور کومه لاره چې پیدا شوی باید له هغې نه گټه واخستلای شي.

فدامحمد فایض

جلو جرایم چگونه و چه وقت گرفته شده میتواند؟

عدم ثبات سیاسی در افغانستان با مطالعهٔ تاریخ آهسته آهسته از آغاز دههٔ دموکراسی آغاز میشود. اختلافات بین خانوادهٔ سلطنتی از زمان صدارت عظمای محمد داوود (۴۲ – ۱۳۳۲) آغاز شده بود. خانوادهٔ سلطنتی در حقیقت به دو جناح تقسیم شده بود که در رأس یک جناح محمد داوود و در جناح دیگر محمد ظاهرشاه قرار داشت که در جناح ظاهرشاه، دامادش جنرال عبدالولی در برابر داوود خیلی فعال بود. سلطنت در حقیقت از سال ۱۳۰۸ که نادرخان بر اریکهٔ قدرت تکیه زد به دو بخش تقسیم شده بود. نادرخان، شاه ولی خان و شاه محمود خان از یک مادر بودند و محمد عزیز خان پدر داوود خان و صدراعظم محمد هاشم خان از مادر دیگر بودند، بناء نادرخان به سلطنت رسید و هاشم خان صدراعظم شد که این صدارت تا سال ۱۳۲۵ ادامه یافت که بعداً بنابر دلایلی که از سوی سلطنت آشکار نه گردید، از مقام صدارت عظمی استعفی داد. گرچه ظاهراً چنان فهمیده شده میتوانست، ازاینکه سیاست دکتاتورانهٔ هاشم‌خان که هفده سال تمام ادامه داشت، دیگر بر سر شانه های ملت خیلی گرانی کرده بود و باید تغییر بمیان میآمد؛ ولی این تغییر در وجود هاشم خان ممکن نبود، بناء او باید مستعفی میشد.

هاشم خان استعفی داد و جایش را سپهسالار شاه محمود خان گرفت (۱۳۲۵) او یک دموکراسی نیم بند را اعلان کرد؛ ولی دید که قوتهای سیاسی و مطبوعات آهسته آهسته از سانسور دولتی خارج میشوند، بناء اعلان دموکراسی را دوباره گرفت و به اصطلاح گفت: دموکراسی، نه دموکراسی. در سال ۱۳۳۲ شاه محمود خان با یک کودتای مرموز و سفید از سوی ارگ سلطنتی مواجه گردید، او شب در خانهٔ خود حضور داشت که از سوی یگانه رادیوی کشور، استعفایش اعلان شد و داوود خان که در کابینهٔ شاه محمود خان معاون صدارت و وزیر دفاع بود، به تشکیل کابینه موظف گردید. داوود دوباره به سیاست هاشم خان توسل جست و یک دهه باز بر گردهٔ ملت سوار شد؛ قوتهای سیاسی و افراد مهم را سرکوب نمود و مطبوعات باز در همان سراغ خزید که در زمان صدارت هاشم خان خزیده بود. گرچه بصورت بالفعل جلو قوتهای سیاسی را گرفت؛ ولی بصورت بالقوه نتوانست جلو عصیان در برابر سلطنت را مهار کند. وقتی داوود خان بنابر اختلافی که در بین دودمان سلطنتی و بخصوص ظاهرشاه و وی پیدا شده بود، در ماه حوت ۱۳۴۲ از صدارت عظمی استعفی داد. شاه دکتور محمد یوسف را به تشکیل کابینه موظف ساخت و به وی وظیفه داد تا در قسمت تسوید قانون اساسی جدید اقدام کند، چون تا این فرصت همان قانون زمان نادر خان نافذ بود. برای تسوید قانون اساسی کمیسیونی یا کمیته یی تشکیل شد که حقوقدانان سرشناسی در آن حضور داشتند؛ ولی با آن هم باید مسودهٔ قانون آنچنان که شاه و خانوادهٔ سلطنتی می خواست تهیه میشد که همانسان شد چنانچه مطالعه فصل شاه قانون اساسی آن زمان این هم ادعا را درست ثابت میکند. قانون اساسی تسوید شد، از لویه جرگه منظور و در ماه میزان ۱۳۴۳ (۱۹۶۴) از سوی شاه توشیح گردید.

درین قانون نامی از تشکیل احزاب برده شده بود؛ ولی ایجاب میکرد که در روشنی قانون اساسی باید قانون احزاب هم تسوید، از سوی شورای ملی منظور و به توشیح شاه برسد. این قانون هم تسوید شد و از سوی شورای ملی هم منظور گردید؛ ولی شاه از توشیح آن اجتناب کرد. این عمل شاه به نیروهای چپی و عناصر چپگرا که در عقب خود حامیان بیرونی داشتند، فرصت داد که خودسرانه بحیث احزاب در عرصهٔ سیاسی کشور عرض اندام کنند. تظاهرات براه افتید، مخالفت با ارگ آغاز شد؛ ولی شاه که این همه جریانات را با بی تفاوتی نظاره میکرد و روانشاد صباح الدین کشککی وزیر اطلاعات و کلتور در کابینهٔ صدراعظم محمد موسی شفیق در اثر مهمش «دههٔ قانون اساسی» بجا او را «شاه، شخصیت فاقد تصمیم» میخواند به اثر بی تفاوتی، یا ترس از دست های پشت پرده، کشور را بسوی بی ثباتی سوق داد تا آنکه پایه های سلطنت دیگر لرزان شد و داوود خان توانست در تبانی با حزب پرچم و برخی از اعضای حزب خلق و افراد وابسته به کا جی بی کودتای ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ را براه اندازد.

داوودخان تا یک مدت متکی بر افراد چپ بود؛ ولی وقتی میخواست بعد از خونریزیهای زیاد و اشتباهات سیاسی تقریباً غیر قابل تلافی، قد راست کند، دیگر دیر شده بود. در زمانی داوودخان جنایاتی رخ داد که او خود هم تا اخیر رد پای آنرا پیدا نکرد، البته این جنایات، برعلاوهٔ جنایاتی بود که دولت خود انجام داده بود که از آنجمله است پیدا شدن قبر دسته جمعی در قلعهٔ زمانخان.

جمعه خان صوفی داماد سلیمان لایق که از ناسیونالست های کمونست ایالت سرحد (امروزه خیبر – پښتونخوا) است و شانزده سال را در کابل سپری کرد و سرگرم مبارزه علیه حکومت ذوالفقار علی بوتو و بعداً حکومات بعدی پاکستان بود در کتابش «درمسال له ختې» که اخیراً بچاپ رسیده است میگوید که در سال ۱۹۷۴ میر اکبر خیبر (یک عضو ارشد پرچم) بمن گفت که «سرنگون کردن داوود برای ما کار چند ساعت است؛ ولی ما نمیخواهیم علیه او اقدام کنیم؛ بلکه کودتا علیه او جفا با ملت خواهد بود» چون ملت ما را نمیخواهد؛ ولی از یک سو پایه های داوود لرزان شده بود و از سوی دیگر مسکو نمیخواست دیگر او در قدرت باقی بماند، خصوصاً بعد از آنکه در اخیر زمامداری اش سفری به ایران کرد و ایران به او وعدهٔ قرضهٔ هفتصد (۷۰۰) میلیون دالری داد و وقتی در بازگشت به هرات رسید در اجتماع بزرگی سخنرانی پر طمطراق نموده در آنجا از ایدلوژی وارداتی نام گرفت که اشاره به کمونیزم روسی بود. از همینجا روسها فهمیدند که داوود دیگر از ما رو به تافته است. علاوه از آن داوود با بوتو صدراعظم پاکستان کنار آمد و مبارزهٔ پشتونها و بلوچها علیه پاکستان از خاک افغانستان پایان یافت. از بوتو دعوت شد تا بخاطر حل منازعات غرض گفتگو به کابل بیاید و در جواب او، خود داوود خان به اسلام سفر نمود؛ ولی سقوط بوتو در جولای ۱۹۷۷ در پاکستان و سقوط داوود در ۱۹۷۸ در کابل با روابط جدیداً ایجاد شده پایان داد.

روی کار آمدن کمونستها در هفت ثور ۱۳۵۷ کشور را بیشتر از پیش بسوی بی ثباتی برد و پیشبینی میراکبر خیبر درین زمینه که ملت آنها را نمی پذیرد درست ثابت شد؛ زیرا کمونستها به مخالفت با تمام ارزشهای عقیدتی و منافع ملی افغانها برخاستند و همه چیز را برای روسها می خواستند و خود غلامانه در رکاب آنها میدویدند. کمونستها بعد از سقوط، یک کشور کاملاً بی ثبات و آسیب دیده را به مجاهدین به میراث گذاشتند. مجاهدین هم که بنابر دلایل عدیده که یک بحث مستقل را ایجاب میکند، نتوانستند در آن گیرو دار ثبات را به کشور برگردانند که همین حالت به طالبان انتقال کرد و از طالبان به ادارهٔ بوجود آمده در کنفرانس بن (۱۳۸۰).

ادارهٔ جدید براساس توافقات بن بوجود آمد؛ ولی با ترکیبی که این اداره بوجود آمد، نمیتوانست ثبات سیاسی کشور را تضمین کند، تا حدی هم رئیس اداره نتوانست ابتکاری بخرج دهد که بتواند جلو جرایم را بگیرد. قانون اساسی و تمام قوانین در طاق نسینان گذاشته شد، اگر قانون تطبیق شد فقط بالای افراد غریب و بی پشتوانه.

اکنون بخاطر جلوگیری از جرایم؛

اولا باید تمام قوتهای سیاسی دست بدست هم بدهند و دولت را قوت بخشند؛ زیرا تا زمانی که دولت قوت پیدا نکند تطبیق قوانین ناممکن است و تا زمانی که قانون تطبیق نشود، جلو جیرایم گرفته شده نمیتواند؛ اکنون بجای قانون افراد و گروهها حاکم هستند.

ثانیاً آنانی که در رأس هرم قدرت قرار میگیرند باید دامن خود شان آلوده نباشد؛ زیرا اگر خود آلوده دامن باشند به مجرمین دیگر چگونه میتوانند بگویند که جرم نکنند.

ثالثاً مصلحتها باید دیگر کنار گذاشته شود. ما از سال ۱۳۸۰ اینک تا ۱۳۹۳ شاهد مصلحتهای مسلسل بودیم، شاید قسمتی ازین مصلحتها توجیه پذیر باشد؛ ولی اینکه از ۱۳۸۰ تا ۱۳۹۳ در اوضاع و احوال هیچگونه تغییری بوجود نیامد، هر گونه توجیه دولتمردان قابل پذیرش نخواهد بود.

چهارم افغانستان که یک کشور اسلامی است، دین مقدس اسلام دین رسمی این کشور است، باید تطبیق حدود الله که متأسفانه در همین سیزده سال معطل بود از سر گرفته شود؛ زیرا تطبیق حدود الله از یکسو برای رعایت عدالت است، و از سوی دیگر برای جلوگیری از تکرار جرایم.

اکنون گپ بجایی کشیده شده که افراد ولگرد و اوباش بر سر سرک عمومی موترها را توقف میدهند و بر ناموس یک مسلمان تجاوز میکنند که حادثهٔ اخیر پغمان یک مثال برجستهٔ آن است، گرچه شخص رئیس جمهور این مسأله را خیلی جدی گرفته و تعهد سپرده است که آنان را علناً اعدام خواهد کرد؛ ولی اگر دولت از قبل درین رابطه جدی میبود و افراد مجرم علناً مجازات میشدند چرا گپ با این فضیحت و رسوایی می کشید. باز هم خوشنود هستیم که دیروز مؤرخ (۱۳۹۳ / ۶ / ۱۶) محکمهٔ ابتدائیه حکم خود به ارتباط مجازات مجرمین قضیهٔ پغمان را اعلام نمود. امیدواریم دو محکمهٔ باقی مانده هم فیصلهٔ خود را صادر کنند، رئیس جمهور هم آنرا طبق وعده به زودترین فرصت توشیح نماید و حکم بلا تأخیر عملی شود.

✍ عبیدالله صافي

ته خو به ځې: خو ملت به تر مودو د قانون د نه حاکمیت په اور کې سوځي

ورمه ورځ ولسمشر کرزي د ارګ په مالۍ کې د هېواد له یو شمېر ښځو سره په یوه ناسته کې وویل: که څه هم زه د اعدامونو مخالف یم او په هر حالت کې مې ورسره مخالفت کړی دی؛ مګر له قاضي القضات نه مې د پغمان د پېښې عاملینو ته د اعدام غوښتنه کړې.

د ښاغلي کرزي صاحب دغه وینا چې د اعدامونو مخالف یم او په هر حالت کې مې ورسره مخالفت کړی د هېواد له اساسي قانون سره په ټکر کې ده. د اساسي قانون په لومړۍ ماده کې راغلي دي چې د اسلام سپېڅلی دین د افغانستان د اولس رسمي دین دی. نو چې زموږ دین اسلام دی؛ بیا په هغه کې چې د کومو ګناهونو مرتکبینو ته د اعدام څرګند احکام او اوامر موجود دي له هغو نه په هېڅصورت کې د مخالفت جواز نشي ترلاسه کېدلای. هغه احکام به خامخا نافذېږي او مجرمین به ضرور د اعدام په سزا محکومېږي. له الله تعالی نه، نه څوک زیات مهربان دی او نه هم زړه سواندی. هغه چې پر خپلو بنده ګانو څومره مهربان دی د مور مهرباني او عاطفه دهغه یوې ذرې ته هم نشي رسیدلای؛ مګر د دومره عاطفې سره سره بیا هم لوی الله د خپلو بنده ګانو د سر، مال، عزت او آبرو د حفاظت په خاطر د خپل لوی حکمت له مخې حدود او تعزیرات فرض کړي دي او فرمایلي دي چې ای د عقل خاوندانو! په قصاص کې ستاسې ژوند محفوظ دی، د اسلام سپېڅلی شریعت غلو، شرابیانو، قاتلانو او نورو فسادیانو ته حدود او تعزیرات ټاکلي دي او لارښوونه یې کړې ده چې تاسې دغو مجرمانو ته د سزا په ورکولو کې زړه مه خوږوئ. د اسلامي شریعت د حکمونو په نظر کې نیولو سره په ډېر جرئت سره ویلی شو چې د هېواد هر اوسیدونکی که هغه لوړ پوړی چارواکي وي او یا هم عام ولسي وګړي د حدودو او تعزیراتو په قوانینو کې د مخالفت کولو هیڅ حق نلري او هر څوک چې داسې فکر لري هغه غټه اشتباه کوي.

زما په باور ښاغلي کرزي صاحب نه د اسلام د سپېڅلی دین له مطالعې نه محروم دی او نه هم د اسلامي تاریخ له مطالعې نه. کله چې رحمت اللعالمین محمد صلی الله علیه وسلم دنیا ته تشریف راوړ په هغه وخت کې د مکې او مدینې پر ځمکه فساد آخري کچې ته رسیدلی و. نه د چا سر او مال محفوظ و او نه هم عزت او آبرو. جهالت تر دې کچې رسیدلی و چې هر چا به ډېر انسانان وژلي وو هغه ته به دهغه د قبیلې له خوا د قهرماني لقب ورکول کېده. آزاد انسانان به یې خرڅول او د غلامې طوق به یې ورته په غاړه کې اچاوه. دومره لوی فساد یواځې د شفاف حکومت او د قانون صحیح نفاذ پر مټ له منځه ولاړ. پر ټولو وګړو قانون یو ډول نافذ شو. له لوړ پوړي چارواکي نه نیولې تر یو عادي ولسي وګړي پورې له ټولو سره یو ډول قانوني چلند وشو. د احادیثو په ټولو معتبرو کتابونو کې صحیح روایت نقل شوی دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې د یوې عزت منې کورنۍ ښځې غلا وکړه، پر هغې د حدودو د نه تطبیق په خاطر یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دهغه یو نږدې صحابي زید بن حارثه د واسطې لپاره ولېږه چې لاس یې پرې نشي؛ مګر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ځواب کې وفرمایل: «په الله قسم که زما لور فاطمې هم غلا کړې وای؛ نو ما به دهغې د لاسونو د پرېکولو حکم صادر کړی و.» مخکینی امتونه څکه تباه شول چې په غریبو وګړو به یې قانون جاري کاو؛ مګر مالدارو ته به یې برائت ورکاوه، په تېرو کې داسې کوم هېواد نشته چې هلته قانون نه وي او ولسونه یې له قانون پرته ژوند ترسره کوي؛ بلکې هر هېواد د قانون په چوکاټ کې خپل ژوند پرمخ وړي. د بې قانونه هېواد د وګړو ژوند د هغو پسونو په څېر دی چې په ځنګل اویا دښته کې بې‌چوپانه خوشې کړای شوي وي اوچې کله هم‌دلیوانو زړه وغواړي له څه ویرې پرته یې ونیسي او خپله ګیډه ورباندې ډکه کړي. که څه هم انسان په ټولو مخلوقاتو کې اشرف المخلوقات حیوان دی، مګر په دغو انسانانو کې داسې بې‌رحمه اوسخت زړي انسانان هم شته چې نه له الله نه ویرېږي او نه هم دهغه د قانون پروا کوي. داسې انسانانو ته الله جل جلاله له چار پای نه هم زیات ګمراه ویلي دي. داسې کسانو ته د اعدام او نورو هغو سزاګانو، نه ورکول چې د اسلام په سپېڅلي قانون کې ټاکل شوي دي. له انسانیت سره ستره جفا ده او پخپل لاس د انسانیت سراومال او عزت ابرو ته تاوان رسولو پرته بل هیڅ معنا نه لري.

کرزی صاحب دی په دې واقعیت اعتراف وکړي چې په دې هېواد کې له ډیرې مودې نه د پغمان له پېښې نه هم زیاتې زړه بوګنوونکي پېښې ترسره شوي دي. هره ورځ د لسګونو با عفتو خویندو عزت لوټېږي. پر لسګونو تنکیو هلکانو جنسي تیری کېږي. د ځمکو غصب شپه په درز کې روان دی. غلو او ډاکوانو د خلکو خوب تښتولی. کیسه براتو یو بدحالت شروع کړی. رشوت عام دی. قاتلان دومره سپین سترګي شوي دي چې په رڼا ورځ د خلکو په وړاندې ښکاره قتلونه کوي. په هره اداره او محکمه کې بدمعاشي روانه ده پولیس په رڼا ورځ رشوت اخلي او ډیری قاضیان د رشوت په بدل کې قاتلینو او مجرمینو ته برائت ورکوي. عملاً هېواد د وحشت په ځنګل بدل شوی او انسانیت د غم او پریشانی په ډنډ کې غرق دی.

جناب کرزی صاحب! د یو هېواد د ولسمشر په توګه ددې ټولو ناخوالو، دردونو، غمونو او پریشانیو مسؤولیت ستا پر غاړه دی، که چیرته تاسی له لومړۍ ورځې نه په هېواد کې د مصلحت پالنې پرځای د قانون حاکمیت پلی کړی وای دومره ستر ستر جرمونه به نه وو ترسره شوي؛ خو ډېر افسوس چې تاسی د قانون د نفاذ په اړه هیڅ پاملرنه ونکړه، په هېواد کې چې څومره جنایي او اخلاقي جرمونه ترسره شول ځان دی داسې ناکاره واچاو چې نه دی څه اوریدلی او نه دی څه لیدلي دي. هغه ده ستا څوارلس کلن اقتدار څو ورځې وروسته ختمېږي؛ مګر تاریخ به دی پاتې وي. ژوند هم بالاخر پای ته رسیدونکی دی او د خپل حکومت د هرې دقیقې حساب او کتاب به هم خپل خالق او مالک ذات ته ورکوې؛ څکه چې لوی الله پخپل سپېڅلي کتاب قرآن کریم کې همدا خبره کړې چې هر چا په دې نړۍ کې دیوې ذرې هومره هم د خیرښېګڼې کار کړی وي، دهغه اجر به وینې او هر چا چې د یوې ذرې هومره بد کار کړی وي دهغه سزا به ورکول کېږي.

د پغمان د پېښې مجرمینو ته خو به سزا ورکولو سره خپله غاړه خلاصه کړې. دهغو زرګونو مقتولینو، مظلومانو، بې‌عفته شویو خویندو، او نور ډول ډول ځورول شویو افغانانو آهونو او زګیرویو ځواب به څوک ورکوي؟ ایا دهغوی د حقونو او ظالمانو له پنجونه د خلاصولو مسؤولیت ستا او ستا د نورو حکومتي چارواکو په غاړه نه و؟ حضرت عمر رضی الله عنه خو تر دې ویلي وو چې که د فرات پر غاړه یو سپی هم له لوږې مړ شي د قیامت په ورځ به یې پوښتنه له ما نه کېږي.

د یو هېواد ولسمشرۍ څوکۍ ته رسیدل په حقیقت کې افتخار نه، بلکې لوی ازمېښت دی. د ګلونو پالنګ نه؛ بلکې د ازغو ډک ګدی ده؛ څکه خو ابوبکر صدیق او عمر رضی الله عنهما د خلافت د واګیو له منلو نه ډډه کوله. کله چې په زوره د خلافت چارې دهغوی پر اوږو واچول شوې؛ نو په ژړا یې ویل چې زموږ اوږې د دومره لوی مسؤولیت له اوچتولو نه عاجزې دي. دهمدغه دروند مسؤولیت احساس ورسره و چې حضرت عمر رضی الله عنه خپل زوی عبدالله د خلافت اهل ونه ګاڼه او اجازه یې ورنکړه چې د خلافت چارې ورته وسپارل شي. کاش چې د افغانستان د هر مظلوم غږ او فریاد دې د پغمان د پېښې د مظلومانو د غږ په څېر اوریدلی وای، او هر مجرم ته دې د اسلام د قانون مطابق ژر تر ژره د سزا ورکولو تاکید کړی وای. متأسفانه چې داسې دې ونکړل. اوس افغانستان د فساد په خوسا ډنډ کې ډوب دی مجرمان حاکمان او قوي دي. پیسه ورسره هم شته او وسله هم. د نشه یې توکو قاچاق هم دوی کوي او د ماشومانو د خرڅولو تجارت هم. تاسې به په ډېر عزت له اقتدار نه رخصت شې؛ خو افغانان به د مظلومیت او محکومیت په ژرنده کې دل کېږي. الله دې وکړي چې راتلونکی حکومت خپل مسؤولیت وپېژني او د خپل مظلوم اولس له درد او غم نه خبر شي. د ملت د سر او مال، عزت او عفت د حفاظت په خاطر د قانون د عملي نفاذ لپاره جدي ګامونه پورته کړي؛ څکه چې پر ټولو یو شان د قانون تطبیق د ټولو ناوره عملونو او فسادونو د مخنیوی یواځنی عملي لاره ده. د قانون نفاذ چې په هېواد کې څومره ژر سمون او امنیت راوستلی شي لکونه پولیس او اردو هغه سمون په کلونو کلونو کې نشي راوستلای چې ښکاره بېلګه یې تیر څوارلس کلن حکومت دی چې د قانون د نه تطبیق له کبله له دومره ستر فساد سره لاس او ګریوان دی.

«او تاسې ته په قصاص کې...

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... سرې وژونکو په حق کې د الله د حدودو تطبیقول غواړي. له نن نه دوه درې اونۍ مخکې د قرغې کابل پر لاره دهغې کورنی د سوارلې موټر د قطاع الطریقانو له خوا ودرول شو چې په پغمان کې له کوم واده نه د کور پر خوا روان و، ویل کیږي چې ددې دارې د غړو شمیر ۱۶ کسان و، دوی ددې کورنۍ نارینه او ښځینه بیلوي، نارینه ترې او د سرک غاړې ته یې غورځوي او ښځې چې په دوی کې یوه ښځه حامله هم وه، باغونو ته دننه کوي او دله ایز جنسي تیری پرې کوي، په دې کې به له هر څه تیر شو، یوازې دا حق به ځان ته ورکړو چې ولې په دې آباده پلازمېنه کې زموږ مال، ستر او ناموس په امن کې نه دی؟!

ددې پوښتنې ځواب هم واضح دی کله چې د کابل د امنیې عمومي قوماندان وویل: «موږ غله، قاچاقبران، سرې وژونکي، یو تن نه څو تنه او پوره باندونه نیسو، قضا پرې د جزا حکم هم صادروي، خو بله ورځ وینو چې خلاص شوی وي» د کابل د امنیې قوماندان دا خبره څرګندوي چې دلته قانون ته درناوی نشته کنه؛

دغه لاره شکوونکي: هم غله دي، هم قطاع الطریقان، هم زانیان دي او هم د خلکو عزت او ابرو دښمنان، قانون حکم کوي چې له دوی دې تحقیق وشي، هغوی چې مجرمان دي که ددوی د قطاع الطریقی جرم ددوی دا جرم تر شعاع لاندې راولي؛ نو ددوی ښې لاس او چپه پښه قطع شي او پاتې نور یې ټول ووژل شي او په ملأ عام کې پر دار وځړول شي، څکه الله جل جلاله په خپله فرمایي چې په قصاص کې تاسې ته ژوند دی، همدا قصاص دی چې ستاسې ژوند تضمینوی کنه دا جنایت کاران به له لبه د خپلې ټولنې وګړي وخوري، نه به یې سر په امان کې ترې پاتې شي او نه به یې مال او نه به یې ناموس، ماته د استاد سیاف هغې خبرې خوند راکړه چې د حکومت ځان مرګی مخالفین یې وننګول او ویې ویل؛ رادې شي ماسره دې بحث وکړي چې چیرته انتحار ته جواز ورکړ شوی؟

او بیا یې پر حکومت غږ وکړ؛ که پنځه تنه انتحاري له نیولو وروسته قصاص شي او د ښار په مختلفو ځایونو کې وځړول شي، زه درته ضمانت درکوم چې نور به هیڅوک دې ته زړه ښه نکړي چې دغه ناروا عمل ته زړه ښه کړي.

کله چې د پغمان د پیښې جانیان او هغه مفسدین چې د میلو په بهانه پر نورو جرایمو سربیره د وار وار زنا مرتکب کیږي او یا هغه غله او داړه ماران چې د خلکو ژوند او امنیت ګواښي، ونیول شي او د جرم د اثبات په صورت کې اعدام شي، واضحه خبره ده چې دا نور مفسدین ژوند ته پر جنایت ترجیح ورکوي او نور له دغو شومو اعمالو لاس اخلي په دې توګه د جرمونو ددغې لویې برخې په کمیدو او یا له منځه تلو کې ټولنه د ارامۍ ساه اخلي او په خپل چاپیریال کې په داډه زړه ژوند کوي او که داسې نه وي؛

۱. خلک به تل په ویره ترهه کې دي، مجبور دي په خپله د ځان په دفاع کې ډیری ککری خاورې کړي چې حکومت بیا هلته هم لاس اچوي او مظلوم د ظالم پرځای محاکمه کوي.

۲. دخلکو اعتماد به پرحکومت له منځه لاړ شي او دحکومت په‌نسبت‌به‌منفي‌ذهنیت واخلي.

۳. ټولنه به ورځ تر بلې د فساد، ویرې، جرمونو او جنایتونو او نورو کړنو ته کشول کیږي او د جانیانو په شمېر کې به د ورځې په تېرېدو زیاتوالی راځي او د بدامنیو او بدمرغیو توپان به ټول په سر راواخلي.

۴. حکومت به سقوط وکړي او د بل حکومت تر راتګه به اولس د بد امنیو په اور کې سوځي.

خو نه؛ راځئ اوس هم وخت شته چې د ځان او راتلونکو نسلونو لپاره مامون افغانستان جوړ کړو او هغه داسې چې قانون تطبیق کړو، قانون ته غاړه کیږدو او له ارزښتونو یې دفاع وکړو. که نن د پغمان د بوږنوونکي پیښې عاملان اعدام شي سبا به کورې چې نور غله، داړه ماران او سرې وژونکي به یا دا هېواد پرېږدي او یا به د سرې زوی ترینه جوړیږي؛ دا څکه چې تاسې ته په قصاص کې ژوند دی ای د عقل خاوندانو!

زندگینامهٔ مرحومه استاد نازنین عیار

✍ اقبالیار بابکرخیل

نازنین جان عیار نجرابی دختر مرحوم جگرن فضل الحق عیار نجرابی در سال ۱۳۳۹ در یک فامیل مسلمان مجاهد متدین و شهید پرور چشم به جهان گشود. موصوفه در سال ۱۳۴۴ در سن پنج سالگی شامل مکتب ابتدائیه محمود هوتکی واقع کوته سنگی گردیده، نظر به استعداد، ذکاوت و لیاقتی که داشت از دورهٔ ابتدائیه بدرجه عالی در سال ۱۳۴۹ فارغ گردیده، بعد از فراغت در سال ۱۳۵۰ شامل لیسه عالی سوریا گردیده در ۱۳۵۵ شامل امتحان کانکور پوهنتون کابل شده در پوهنځی اداره و صنعت در رشتهٔ محاسبه در سال ۱۳۶۰ به درجهٔ عالی بسویه لسانس فارغ گردیده شامل ماموریت در وزارت مالیه کشور گردید.

مادر نازنین جان چون دختر کاکای شهید انجنیرصاحب حبیب الرحمن از مؤسسین نهضت اسلامی بود، از جمله خواهرانیکه حامی و خدمت زیاد انجنیرصاحب را در زمان حیات مبارزاتی فرزندان از دل و جان نموده همین مادر داغدیدهٔ نازنین جان بوده که در ضمن دو پسرش در مبارزه فرهنگی و جهاد مسلحانه هر یک لمرجان عیار شاگرد صنف دوازدهم حربی شوونځی که تازه نامزد شده بود در سال ۱۳۵۸ در نظام بدنام تره کی دستگیر روانه زندان شده بالاخره شهید گردید.

تورن ذکرالحق عیار بعد از هجرت در جنگ های تحمیلی کمونست ها در شهر جلال آباد در سال ۱۳۶۷ به درجه شهادت نایل گردید که تازه عروسی نموده بود.

ناگفته نماند زمانیکه جسد مبارک شهید تورن ذکرالحق را به شفاخانه کمپ نصرت مینه انتقال دادند، مادرش از شهادت پسرش خبر شده به شفاخانه آمده بالای سر فرزند دلبندش ایستاده بدون آنکه گریبان پاره کند موهای خود را بکند یا به سرو روی خود بزند چنین خطاب نموده گفت: ذکرالحق جان شهادتت مبارک باد! پسرم! من به صفت مادر برایت تبریک گفته آرزو میکنم در روز رستاخیز شفاعت مرا هم نیز نزد پروردگار نمایی.

بعد بطرف خانه رفته و برای کسانیکه از اهل مجلس بودند گفتند جسد پسرم را بخانه بیاورید تا دوستان همرایش دیدار و خداحافظی نمایند.

این همه شهادت ها، حوادث دعوت ها، فراز و نشیب ها را نازنین در اجتماع و خانوادهٔ خود به چشم دیده و لمس نموده بودند.

به گفته شاعر:

ما شیشه‌ایم و شیشه ندارد از شکستن باک
شیشه هر چه شکنند تیزتر می شود

نازنین جان مثل خانواده در تعهد خود وفادار بود، هیچ گاه در هیچ مکان و زمان از دعوت در راه اعلای کلمة الله، تعلیم و تربیه دختران نسل جوان کشور ابا نورزیده، بالاخره در سال ۱۳۶۳ راه هجرت را همراه خانواده در پیش گرفته به پاکستان مهاجر گردید، به صفت استاد، سرمعلمه و مدیره مکتب ایفای وظیفه نمود، بار اول به ابتکار همین خواهر مکتب دخترانه البنات المؤمنات به لیسه ارتقا نمود، در سال ۱۳۹۱ به صفت مدیره مکتب ایفای وظیفه نموده دوباره بکابل آمده مسؤولیت عضو شورای اجرائیه حزب اسلامی و رئیس سازمان زنان حزب اسلامی ایفای وظیفه نمود، به اثر مریضیی که عاید حالش گردیده بود بتاریخ ۲۵ اسد ۱۳۹۳ به عمر ۵۴ سالگی داعی اجل را لبیک گفته در مراسم جنازه و فاتحه شان صدها تن از اقشار مختلف کشور حضور به هم رسانیده بروح شان اتحاف دعا نمودند.

خلاصه کلام نتایج و زحمات شبا روزی شان در بخش دعوت و تعلیم و تربیه دختران جوان مسلمان چه در زمان هجرت و چه در وطن عزیز قابل قدر بوده، صدها شاگرد ممتاز و استادان با احساس مسلمان، مجاهد، دعوتگر از برکت تلاش همین خواهر ما بوده که همه در حق شان طلب آموزش بهشت برین از خداوند عزوجل تمنا داشته، من هم به نمایندگی از مردم مجاهد کابل عزیز پیام تسلیت خود را حضور خانوادهٔ شان، برادران، خواهران و اعضای رهبری حزب اسلامی و سازمان زنان حزب اسلامی افغانستان تقدیم میدارم. خدمات استاد نازنین جان را به دیده قدر نگریسته از خداوند عزوجل برای شان فردوس برین را استدعا دارم.

یادش گرامی، راهش پر رهرو باد!

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمیرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین خواجه وحیدالله | آدرس دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاډاب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

سلسله آغاز و دوام سیمینار...

(ادامه از صفحه اول)

... محصل ما بتوانند که با پابندی کامل این سلسله را تعقیب نمایند، بدون شک و شبهه در کمترین وقت در بسا از مسایل و مسؤولیت های اسلامی شان معلومات کافی بدست آورده رول مهم و اساسی و نقش بارزی را در جامعه ایفا می کنند.

تا هنوز که از تدویر این سیمینارهای علمی دو هفته سپری شده است، پیرامون دو موضوع بحث اساسی و همه جانبه صورت گرفته است. موضوع بحث در پنجشنبه اول (مسؤولیت جوانان در عصر حاضر) و موضوع بحث در سیمینار روز پنجشنبه مؤرخ ۱۳ سنبله (اتحاد رمز پیروزی ماست) بود. جوانانی که درین دو سیمینار شرکت داشتند از بحث های علمی، فکری و تربیتی استفاده بهتر کرده دوام همچو سیمینارها را مفید و سازنده تلقی کردند.

جامعه ما برای رشد فکری و تربیت سالم جوانان و دانشجویان ضرورت مبرم دارد، توجه درین بخش و فعالیت های دوامدار درین ساحه مشکلات زیادی جامعه را از بین برده راه را برای تحکیم اخوت و همآهنگی هموار میسازد، کشمکش ها و بدبینی ها را کمتر ساخته هر جوان اجتماع را شخصیت می بخشد و با ارتقای شخصیت، جوانان ما خدمتگاران اصلی اجتماع شده در تشخیص و رفع کمبودی ها مانند استادان مجرب و کارآزموده نقش اساسی را بازی می کنند، اختلافات و ناهمگونی های حاکم در اجتماع، اکثریت جوانان را رنج می دهد و برای بیرون رفت از نابسامانی ها می اندیشند، می کوشند تا مشکلات حاکم بر اجتماع که سبب پس مانی ها شده، مردم را در رنج و تکلیف قرار داده است، از بین رفته، سهولت ها و آسانی ها جای آنرا بگیرد. گاهی انسان برای انجام دادن کار بهتر فکر می کند اما در اجرای آن و انتخاب راه آن عاجز می ماند، دوام و تعقیب چنین سیمینارها طرق بیرون رفت از مشکلات و راه های تربیت سالم و انتخاب شیوه های زندگی معقول را به ما می آموزاند و از تشتت و پراگندگی ها نجات داده رمز اصلی زندگی با همی و اهمیت و ارزش انسانیت را برملا میسازد، در نتیجه جوانان می توانند که به حیث سرمایه سرشار و خزانه های قیمت بهای جامعه تبارز کرده دوشا دوش بزرگان در انجام کارهای اصلی سهم بارز گیرند.

یکی از خصوصیت عمده و ملموس گردانندگان این سیمینار اینست که بدون درنظر داشت حدود تنظیمی به استقبال و گرامیداشت هر جوان می شتابند، می کوشند تا اختلافات و بدبینی های ناشی از فرقه گرایی، سنتی و تنظیمی را از بین ببرند، همه برادران مسلمان و جوانان متعهد به اسلام را در آغوش بگیرند و راه را برای آشتی و سازش واقعی و اتحاد و همبستگی کامل مردم باز سازند تا درد و الم این ملت مسلمان ازبین برود و همه مردم به خصوص جوانان، در کنار هم برادرانه زندگی نمایند و برای بهتر ساختن وضعیت کشور، حاکمیت اسلام و زنده نگهداشتن شعایر دینی کار و فعالیت کنند.

مسلمانان با هم برادر اند و اسلام برای دوام برادری و انتخاب روشی که بدبینی ها را از بین برده اخوت و برادری را قوت بخشد ما را راهنمایی های کامل کرده است، اگر بزرگان ما در پهلوی آنکه خود را به آن پابند سازند، جوانان را توجیه و راهنمایی کرده در ترویج آن در میان افراد اجتماع کوشش کنند، یقیناً در آینده های نزدیک مشکلات کمتر شده، جوانان پاسداران اصلی خوبی های اجتماع می شوند و در انجام همه مسؤولیت ها و حفظ اصالت اسلام سپاهیان واقعی این راه می گردند.

با اظهار امتنان از کدر رهبری و اداره ویژه بخش تدویر سیمینارهای علمی حزب اسلامی التماس دارم تا همه جوانان کشور ما در راه آمادگی خدمت به دین و وطن، صحابه گونه اقدام نمایند، در شناخت مسؤولیت ها، احترام به بزرگان، ارزش خدمات اسلامی آنها عمیقاً بیندیشند، نگذارند تا اشخاص غرضی جهت پیشبرد اغراض شخصی از همت و نیروی جوانان به نفع خود بهره بردارند و با ایجاد دوگانگی و اختلاف در میان جوانان کار و فعالیت کنند.

هرآنچه را که اسلام عزیز به ما تعلیم می دهد و ما را مکلف به انجام آن می سازد به آن پابند و از اشاعه و گسترش سخنان که کیان هستی جامعه ما را ضربه زده مشکلات را بار می آورد خود داری کنیم تا بتوانیم به حیث خادمان اصلی دین زندگی کرده در پیشگاه رب العزت سرفراز باشیم.

ابراهیمي: جنجال‌های انتخابات کشور را بامشکلات روبروساخته است

کابل، رسانه ها:
جنجال های انتخابات تنها در میان مردم خلاصه نشده بلکه، اعضای شورای ملی را نیز نگران ساخته است.
برخی از وکلا در ولسی جرگه و سناتوران در مشرانو جرگه می گویند که همین جنجال های انتخاباتی سبب شده که نا امنی و بحران اقتصادی در اکثریت ولایات کشور به میان آید. عبدالرووف ابراهیمی رییس ولسی جرگه که روز یکشنبه در آغاز جلسه هشتم دوره، شانزدهم این جرگه سخن می زد گفت که مسوول تمامی این نگرانی ها دو نامزد ریاست جمهوری هستند.
آقای ابراهیمی از این دو نامزد خواست تا به اختلاف نظر های شان پایان داده و کشور و مردم را از جنجال های جاری نجات بخشند.
آقای ابراهیمی نگرانی هایش را در باره، مشکلات انتخاباتی این گونه بیان کرد:
"بر خلاف انتظار مردم، انتخابات به درازا کشید، میان دو نامزد ریاست جمهوری، بروز شک و تردید مشکلاتی را بیش آورد که متأسفانه حکومت را در بلاتکلیفی قرار داده است، وظیفه، ما نمایشده گان است که فعالیت های نظارتی شان را در این باره شدت بخشند و کشور را از این حالت نجات دهیم."

پاکستان: طوفاني بارانونو کې د مړو شمېره ۱۸۱ ته رسېدلې

کراچي، رسنۍ:
د پاکستان پنجاب صوبې په ختیځو علاقو کې د تیرو څو ورځو راهیسې د رواني تېزو بارانونو له کبله سیلابونه راغلي، او په لسګونو علاقې یې ډوبې کړې، او د دغو سیمو نه د خلکو خوندي ځایونو ته د منتقل کولو سلسله روانه ده.
چارواکي وایي د بارانونو له امله په رامنځته شوو پېښو کې تراوسه پورې ۱۸۱ کسان مړه شوي، او نژدې ۳۰۰ نور ژوبل شوي دي.
د سر کاري میډیا ترمخه په پنجاب صوبه کې د بارانونو او سیلابونو له کبله هنګامي حالت اعلان شوی، او د صوبې وزیراعلي شهباز شریف په ادارو د سیلاب ځپلو د مرستو تدولو غږ کړی دی.
د قدرتي افتونو په وخت د مرستو د انتظام اداري)این ډي ایم ای(ویاند احمد کمال والس اف امریکا ته ټن د اتوار په ورځ ویلي، چې بارانونو کې تر ټولو زیاتي مرګ ژوبلې په پنجاب صوبه کې رامنځته شوي، او د ۱۰۸ کسانو د مړینې پخلی شوی دی. دغه رنګه د پاکستان د انتظام لاندې کشمیر کې ۶۲ او ګلګت بلتستان کې ۱۱ کسان مړه شوي دي.
د نوموړي په وینا:
د بارانونو له کبله د رامنځ ته شوي زیان اندازه لګولی شي، خو تراوسه پورې نږدې ۱۵ کورونه په مکمله توګه تباه شوي، او درې نیم زرو ته زیان اوښتی دی.
راپورونه وایي سیلابونو د پنجاب صوبې په سیالکوټ او ګجرانواله سیمو کې په لګونو ایکړه ځمکو باندې ولاړ د شولو فصلونه هم سخت اغیزمند کړي دي.
او حافظ اباد سیمه کې نژدې دوه سوه کلو ته اوبه اوښتي، او وئیل کیږي سیمه کې نږدې دوه لاکه کسان متاثر شوي او د علاقې نه درې زره کسان محفوظو ځایونو ته منتقل کړی شوي دي. راپورونه وایي جلالپور بهټیا نومې سیمه کې هم د ۹۰ ته په زیاتو کلو باندې اوبه ورغلي دي.
په چناب سیند کې د تیز سیلاب خطره موجوده ده، او د سیند په غاړو اباد خلک یوځ د هیلي کاپټرو او کشتو د لارې خوندي سیمو ته اوباسي.

ابتداییه محکمې پر جنسي...

لویې څارنوالی ویلي چې په دې قضیه کې لس کسه شکیل دي، چې اوه یې د دولت له لوري نیول شوي او څارنوالی د پوره شواهدو او مدارکو پر بنسټ د هغوی لپاره د سختې سزا غوښتنه کړې ده.
د دغو اوو تورنو (عزیزالله، مصطفی، نظرمحمد، سمیع الله، قیس الله، صفی الله او جمیل) علني محکمه د یکشنبې په ورځ د کابل ښار د دریمې حوزې د لومړی محکمې له خوا ترسره شوه.
په دې قضایي ناسته کې د زمرې مباشتې د ۳۱مې شپې پر پیښې سربېره چې یاد کسان په کې تورن وو، یو شمېر نورو زیانمنو ښځینې تورن پر وژنو، غلاوو او جنسي تیریو هم تورن کړل.
بالاخره یادې محکمې د موظف څارنوال د صورت دعوا او د تورنو د مدافع وکیلانو د دفاعیې له اورېدو وروسته یاد اوه کسان له ځینو جرایمو سره د تړاو له امله پر تنفیذي بند او د وسله وال لوټ په تړاو پر سخته سزا محکوم کړل.
د کابل ښار د لومړنۍ محکمې د دریمې حوزې رییس صفي الله مجددي په تنی علني غونډه کې د محکم صادر شوی حکم داسې بیان کړ: "ته عزیزالله د حفیظ الله زوی او ته مصطفی په حبیب مشهور د عبدالحمید زوی، ته نظر محمد د تاج محمد زوی، ته سمیع الله د سلطان محمد زوی او ته قیس الله د غلام جان زوی د اختطاف په قضیه کې د اختطاف او انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې قانون د شپږمې مادې د لاربښوونې له مخې د یاد قانون اومې مادې ته پام سره تاسې هر یو د نظارت او توقیف د ورځو له پیله پر ۱۵، ۱۵ کاله تنفیذي بند مجازاتو محکوموم."
د زنا د نامشروع فعل د ترسره کولو د قضیې په تړاو د جزا قانون د ۴۲۷ مې مادې د تعدیل د لاربښوونې او د دغه قانون د ۱۴۹مې مادې د لومړی فقرې په رعایت سره له دغو کسانو هر یو، چې محکمې مې نوموړنه واخیستل، پر ۲۰، ۲۰ کاله تنفیذي بند مجازات محکوموم.
د وسله وال لوټمار په قضیه کې همدغه پورته یاد کسان د کورني او بهرني امنیت پر وړاندې د جرایمو قانون د ۱۵مې مادې له لارښوونې سره سم پر سخته سزا یعنې د اعدام پر سزا محکوموم.
همدارنګه ته صفي الله د سلطان محمد زوی او ته جمل د شاه علم زوی د نامشروع فعل د ترسره کولو په قضیه کې د الزام دلایلو د نشتوالي له امله د هېواد د اساسي قانون د ۲۵مې مادې او د جزا قانون د ۴مې مادې پر اساس مې بری الذمه وپېژندلې او ستاسې هر یوه د برائت حکم مو صادر کړ.
د اختطاف په قضیه کې د ګډون له امله، چې د زنا فعل د ترسره کېدو لامل شو، له اختطاف او انساني قاچاق سره د مبارزې قانون د شپږمې او اومې مادې له لارښوونې سره سم او د جزا قانون د ۳۹ مې مادې په نظر کې نیولو سره هر یو تورن صفي الله او جمیل پر ۲۰، ۲۰ کاله تنفیذي بند مجازاتو محکوموم.
د وسله وال لوټمار په قضیه کې له دغو دوو تورنو هر یو مو په تر ټولو سخته سزا اعدام محکوم کړ."
مجددي همدارنګه وویل، هغه اجناس، ګاڼې، نغدې پیسې او یو کرولا موټر چې د قضیې له زیانمنو همدغو کسانو لوټلي، په زیانمنو پورې اړه لري او باید هغوی ته ور کړل شي.
هغه وویل، چې دغه حکم قطعي نه دی او تورن د استیناف حق هم لري.
دا په داسې حال کې ده چې عام خلک، دیني عالمان، د مدني ټولنو غړي او د قومونو مشران د هېواد په بیلابیلو ولایتونو کې د دې پیښې د عاملانو د سختې سزا غوښتنه کړې ده.
د هېواد ولسمشر حامد کرزي هم د دې پیښې عاملینو ته په عام محضر کې د اعدام غوښتنه کړې ده.

اگر ملاقات امروز نتیجه ندهد...

در کشور توافقی به دست نیابد، این تیم موقف جدید خود را اعلان خواهد کرد.
آقای رحیمی می گوید که بحث روی اعلان حکومت مستقل یکی از گزینه های است که ممکن روی آن در شورای رهبری تیم اصلاحات وهمگرایی بحث صورت گیرد:
"اگر مذاکرات به بن بست برسد، تمام گزینه ها باز است و بحث اینکه تیم اصلاحات و همگرایی در اخیر چه تصمیم خواهد گرفت، از طریق رهبری و شورای رهبری به سمع مردم افغانستان خواهد رسید و این مسأله اعلان حکومت یکی از گزینه های است که حتماً در بحث ها مطرح خواهد شد."

کمیسیون انتخابات خواهان نهایی...

هر چه زودتر انکشافات سیاسی که صورت گرفته و یا صورت می گیرد بالآخره نهایی شود. کمیسیون مستقل انتخابات کوشش کرده و می کند که هر چه زودتر چندین مراحلی را که موجود است روند فزیکی شمارش و تفتیش آرا به پایان رسید، جمع بندی آن هم به زودی به پایان می رسد.
بناً اگر تفاهمات سیاسی صورت می گیرد هر چه زودتر نهایی شود."
بیش از این نامزدان ریاست جمهوری در نشست های متعددی که داشته اند روی صلاحیت های رییس اجراییوی با هم به توافق نرسیده اند.
کمیسیون مستقل انتخابات در حالی روی نهایی شدن روند گفتگو های سیاسی میان نامزدان ریاست جمهوری تاکید دارد که اخیراً یکی از چهره های مطرح سیاسی از اعلام نتایج انتخابات ریاست جمهوری در وضعیت فعلی نگرانی کرده است.
عبدالرب رسول سیاف یک تن از رهبران جهادی و کاندید دور اول انتخابات ریاست جمهوری در تازه ترین مورد با صدور اعلامیه، گفته که اعلام نتایج انتخابات قبل از توافق سیاسی میان تیم های انتخاباتی پیامد خوبی در پی نخواهد داشت.
آقای سیاف خواستار حل تنش های سیاسی قبل از اعلان نتایج انتخابات ریاست جمهوری شده است.
گفتنیست که روز یکشنبه یان کوبیش نماینده خاص سرمنشی سازمان ملل متحد برای افغانستان نیز در مورد ارائه آخرین انکشافات سیاسی نامزدان، با اعضای رهبری کمیسیون مستقل انتخابات نشستی داشت.
بر بنیاد معلومات کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان، از آغاز پروسه ابطال آراء تا کنون آرای ۵۷۵محل رایدهی بی اعتبار اعلام شده است.
این کمیسیون می گوید که تا اخیر هفته روان روند ابطال آراء نیز پایان خواهد یافت.
کمیسیون مستقل انتخابات در حالی از نهایی شدن کار های تخنیکی روند تفتیش تا پایان هفته روان خبر می دهد که تیم تحول و تداوم و شماری از مردم عام بر اعلام فوری نتایج انتخابات تاکید دارند.